د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د قرآن کریم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه

## دوهم ټولګی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري
په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع
ده. له سر غړونکو سره قانوني چلند کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست


# د قرآن کریم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه

## دوهم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـــ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب د تالیف، ځېړنې او تدقیق کمیټې**

**لیکوال:** سرمؤلف الحاج مولوي بسم الله بختیار د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

**سلاکاره کمیټه:**

۱_ دکتور احسان الله د اسلامي علومو د دیپارتمنت آمر.

۲_ سرمؤلف الحاج بسم الله بختیار د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی

۳_ عبدالرقیب جهید د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۴_ سرمؤلف محمد انیس یونس د عربي ژبې او ادبیاتو د دیپارتمنت آمر .

۵_ مولوي عبدالوکیل د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۶_ مؤلف شیر احمد مسعودی د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۷_ استاد رقیب الله ابراهیمي د اسلامي علومو د د یپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۸_ مایل آقا متقي د اسلامي علومو د د یپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

**د ځېړنې او تدقیق کمېټه:**

۱_ پوهاند عبد السلام عظیمي قاضي القضات او د سترې محکمې رئیس.

۲_ قضاوت پوه استاد قیام الدین کشاف.

۳_ قاضي نذیر احمد حنفي د ولسي جرګې د تقنین کمیسیون مرستیال.

۴_ مولوي عبدالعزیز د ولسي جرګې د دیني ، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیون غړی .

۵_ کرامت الله صدیق د حج او اوقافو وزارت د تدقیق کمیسیون رئیس.

۶_ مولوي عین النعیم فیضي د علماؤ د سراسري شورا غړی .

۷_ مولوي عنایت الله بلیغ د علماؤ د سراسري شورا غړی .

**د محتویاتو، سیاسي، فرهنګي، او دیني برخو د ځېړنې او کره کتنې کمیته:**

۱ - دکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت لوی سلا کار.

۲ - محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

## د تدقیق، تصحیح او خارنې کمیسیون:

دکتور عبدالغفور غزنوي د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین- د کمیسیون رئیس.

د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس،- غړی

سید محمود خلیق د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمي غړی- غړی

**کمپوز او ډیزاین:**

حمیدالله غفاري

**د مطالبو فهرست**


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | د قران کریم د زده کړې مضمون | ۱________________۲۶ |
| ۲ | د اسلامي ښوونې او روزنې مضمون: لومړی فصل: عقاید | ۲۷________________۳۶ |
| ۳ | دویم فصل : فقه | ۳۷________________۵۷ |
| ۴ | دریم فصل: اخلاق | ۵۸________________۶۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د پوهنې د وزیر پیغام**

**ګرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قرآن کریم د زده کړې برخه

## لومړی لوست

## د قرآن کریم د تلاوت ادبونه

**هدف:**

د قرآن کریم له آدابوسره آشنايي.

**پوښتنه:**

آيا تاسو پوهيږئ، چې د قرآن کریم د تلاوت په وخت کې بايد کوم شيان په پام کې ونيول شي؟

د قرآن کریم تلاوت زيات احکام او آداب لري، چې دبیلګې په توګه يــې ځينوته په لاندې ډول اشاره کوو:

۱_ له اوداسه پرته بايد قرآن کریم ته لاس ورنه وړو.

۲_ د قرآن کریم د لوستلو لپاره بايد اودس وکړو او پاکې جامې مو پر ځان وي.

۳_ د قرآن کریم له تلاوت څخه د مخه اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الــرَّجِيْمِ او وروسته بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ووايو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴_ قرآن کريم په پوره ادب او احترام سره تلاوت کړو.**

**۵_ هڅه وکړو، ترڅو قرآن کريم په سمه توګه زده کړو.**

**٦_ کوښښ وکړو، ترڅو قرآن په ښه غږ تلاوت کړو.**

**٧_ کوښښ وکړو، ترڅو د آيتونو معناګانې هم زده کړو.**

**٨_ کله چې د قرآن کريم تلاوت واورو، نو بايد غلي شو او غوږ ورته ونيسو.**

**هڅونه:**

زده کوونکي دې د قرآن کريم د تلاوت آداب په غورسره ولولي او بيا دې په خپلو کتابچو کې وليکي.

**ارزونې:**

آيا زده کوونکو د قرآن کريم د تلاوت ادبونه زده کړي دي؟

آيا زده کوونکي د قرآن کريم آدا ب په ټولګي کې کاملا مراعات کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم لوست :

# درې ګوني حرکات

**هدف:** د درې ګونو حرکاتو تکرار.

**پوښتنه :**

- آیا تاسو زور، زیر او پېښ پیژنئ ؟

**الفباء د زور، زېر او پېښ له حرکتونوسره په هجايي ډول ولولئ:**

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَ اِ اُ | بَ بِ بُ | تَ تِ تُ | ثَ ثِ ثُ | جَ جِ جُ |
| حَ حِ حُ | خَ خِ خُ | دَ دِ دُ | ذَ ذِ ذُ | رَ رِ رُ |
| زَ زِ زُ | سَ سِ سُ | شَ شِ شُ | صَ صِ صُ | ضَ ضِ ضُ |
| طَ طِ طُ | ظَ ظِ ظُ | عَ عِ عُ | غَ غِ غُ | فَ فِ فُ |
| قَ قِ قُ | کَ کِ کُ | لَ لِ لُ | مَ مِ مُ | نَ نِ نُ |
| وَ وِ وُ | هَـ هِـ هُـ | ءَ ءِ ءُ | يَ يِ يُ | |

**لاندې کلمې په هجايي ډول ولولئ:**

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مَعَ | لَکَ | فَعَلَ | فُعِلَ | عَلِمَ | عُلِمَ | نَصَرَ | نُصِرَ | مَنَعَ |
| مُنِعَ | خَلَقَ | خُلِقَ | جَمَعَ | جُمِعَ | وَجَدَ | وُجِدَ | رَزَقَ | رُزِقَ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## **هڅوني :**

**ښوونکی دې توري حروف له درې ګونوحرکتونو سره ولولي او زده کوونکي دې په پوره پام تکرار کړي .**

**زده کوونکي دې په جدول کې د ننه کلمې په هیجایي ډول ولولي.**

## **ارزونه :**

**آیا زده کوونکي کولای شي لاندې کلمې په سمه توګه و لولي ؟**

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حَسَدَ | وَقَبَ | جَاءَ | حَاسِدْ | خَلَقَ | قُلْ | اَعُوْذُ | مَلِکِ | نَعْبُدُ | یَوْمِ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم لوست

# تنوین ــ ۱

**هدف:**

د تنوین زده کول

**پوښتنې:**

- آیا تنوین پیژنئ؟
- آیا کولای شئ تنوین سم ولولئ؟

تنوین په درې ډوله دی:

۱ـ **د زورتنوین.** د دوو زورونو په ډول د تورو په سر لیکل کېږي، لکه :

ــــً او د هغه ساکن نون په ډول تلفظ کیږي چې مخکې ور څخه زور

وي،مثلا:

اً د (ن) په شان لوستل کیږي.

۲ـ **د زېرتنوین**، د دوو زېرونو په ډول لیکل کېږي، لکه :

ــــٍ او د هغه ساکن نون په ډول تلفظ کیږي چې مخکې ور څخه زېر وي،

مثلا: اٍ د(ن) په شان لوستل کېږي .

۳ـ **د پېښ تنوین.** د دوو پېښونو په ډول لیکل کېږي، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ــٌــ او د هغه ساکن نون په ډول تلفظ کېږي چې مخکې ورڅخه پېښ وي،

مثلا:

اٌ د اُنْ په شان لوستل کېږي .

اوس د جدول په داخل کې حروف له تنوین سره ولولئ.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ليکل کيږي | اً | اٍ | اٌ | بً | بٍ | بٌ | تً | تٍ | تٌ |
| لوستل کيږي | اَ نْ | اِنْ | اُنْ | بَنْ | بِنْ | بُنْ | تَنْ | تِنْ | تُنْ |

**هڅوني :**

زده کوونکي دې حروف له تنوین سره ولولي .

د الفبا حروف د پورتني جدول په څېر و لیکئ او تنوین ورکړئ .

**ارزونه :**

آیا زده کوونکي کولای شي چې د تنوین درې ګوني ډولونه و پیژني او ويې لولي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم لوست

# تنوین - ۲

**هدف:**

دتنوین یادونه

**پوښتنه:**

آیا کولای شئ الفبا له تنوین سره ولولئ ؟

اوس د الفبا ټول حروف له تنوین سره ولولئ:

| |
|---|
| اً اٍ اٌ بً بٍ بٌ تً تٍ تٌ ثً ثٍ ثٌ جً جٍ جٌ حً حٍ حٌ خً خٍ خٌ |
| دً دٍ دٌ ذً ذٍ ذٌ رً رٍ رٌ زً زٍ زٌ سً سٍ سٌ شً شٍ شٌ صً صٍ صٌ |
| ضً ضٍ ضٌ طً طٍ طٌ ظً ظٍ ظٌ عً عٍ عٌ غً غٍ غٌ فً فٍ فٌ |
| قً قٍ قٌ کً کٍ کٌ لً لٍ لٌ مً مٍ مٌ نً نٍ نٌ وً وٍ وٌ |
| هً هٍ هٌ ءً ءٍ ءٌ يً يٍ يٌ |

**هڅونه :**

زده کوونکي دې الفبا په ډله ییزه توګه ولولي.

**ارزونه :**

آیا زده کوونکي کولای شي د تنوین ډولونه له ټولو حروفو سره ولولي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم لوست

# شد

**هدف:**

د شد زده کول

**پوښتنه:**

آیا شد پیژنئ؟

**د شد نښه داده : ـــــّـــ . که د یو توري په سر شد واقع شي معنی یې داده چې دا حرف تکرار شوی دی. لومړی توری یې ساکن او دویم یې حرکت لري.**

**لاندې مثالونو ته پام وکړئ:**

| | |
|---|---|
| مَدَّ | مَدْ دَ |
| إِنَّ | إِنْ نَ |
| رَبٌّ | رَبْ بُ |
| صَلِّ | صَلْ لِ |
| ثُمَّ | ثُمْ مَ |
| كَلاَّ | كَلْ لاَ |
| شَدَّ | شَدْ دَ |
| دَلَّ | دَلْ لَ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هځونه :**

**لاندې جدول د درسي جدول په ډول ډک کړئ :**

| | |
|---|---|
| نَزَّلَ | |
| قَرَّبَ | |
| عَلَّمَ | |
| كَذَّبَ | |
| عَمَّرَ | |

**ارزونې:**

**آیا زده کوونکي شد پیژني ؟**

**آیا زده کوونکي کولای شي، شد سم تلفظ کړي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم لوست

# اشباعي حرکتونه: الف

**هدف :**

د الف له تلفظ سره اشنا يي،

**پوښتنه :**

ايا پوهېږئ کله چې الف له يوه زور لرونکي حرف څخه وروسته راشي څه ډول لوستل کيږي؟

دلاندې کلماتو تلفظ ته پام وکړئ :

| | | | |
|---|---|---|---|
| اَ | اَء | بَ | بَا |
| تَ | تَا | ثَ | ثَا |
| جَ | جَا | حَ | حَا |
| خَ | خَا | دَ | دَا |
| ذَ | ذَا | رَ | رَا |
| زَ | زَا | سَ | سَا |
| شَ | شَا | صَ | صَا |
| ضَ | ضَا | طَ | طَا |
| ظَ | ظَا | عَ | عَا |
| غَ | غَا | فَ | فَا |

په قرآن کريم کې کله الف د حروفو په سر په ډېر وړوکي شکل ليکل کيږي.

لاندې مثالونو ته پام وکړئ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

بَـعَثْـنَـٰـكُـم = بَعَثْنَاكُمْ        وَٰحِـدٍ = وَاحِدٍ

ذَٰلِكَ = ذَالِكَ

**هڅونه :**

لاندې جدول په مناسبو کلماتو ډک کړئ :

| له زور سره توری | له الف سره توری | | له زورسره توری | له الف سره توری |
|---|---|---|---|---|
| ق | | | ک | |
| ل | | | م | |
| ن | | | و | |
| هـــ | | | ء | |
| ي | | | ة | |

**ارزونه :**

آیا زده کوونکي کولای شي حروف له الف سره سم تلفظ کړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووم لوست

# اشباعي حرکتونه : واو

**هدف:**

د واو له تلفظ سره اشنايي

**پوښتنه:**

ايا پوهېږئ کله چي واو له يو پېښ لرونکي توري څخه وروسته واقع شي، څه ډول تلفظ کېږي؟

د لاندي کلماتو تلفظ ته پام وکړئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اُ | اُو | | بُ | بُو |
| تُ | تُو | | ثُ | ثُو |
| جُ | جُو | | حُ | حُو |
| خُ | خُو | | دُ | دُو |
| ذُ | ذُو | | رُ | رُو |
| زُ | زُو | | سُ | سُو |
| شُ | شُو | | صُ | صُو |
| ضُ | ضُو | | طُ | طُو |
| ظُ | ظُو | | عُ | عُو |
| غُ | غُو | | فُ | فُو |

په قرآن کريم کي ځيني وختونه واو په ډېر وړوکي شکل د حرف په سرليکل کېږي. لاندي مثالونو ته پام وکړئ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

إِنَّهٗ = اِنَّهُو   رَحْمَتُهٗ = رَحْمَتُهُو   خَطِيـــئَتُهٗ = خَطِيئَتُهُو

**هڅونه :**

لاندنی جدول په مناسبو حروفو ډک کړئ:

| له پيښ سره توری | له واوسره توری | | له پيښ سره توری | له واو سره توری |
|---|---|---|---|---|
| ق | | | ک | |
| ل | | | م | |
| ن | | | و | |
| هــ | | | ء | |
| ي | | | | |

**ارزونه:**

آيا زده کوونکي کولای شي حروف له واو سره سم تلفظ کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آتم لوست

# اشباعي حرکتونه: یا

**هدف:**

د یا له تلفظ سره آشنایي

**پوښتنه:**

آیا پوهیږئ کله چي یا له یوه زیر خخه وروسته راشي څنګه تلفظ کیږي؟

لاندي تورو ته پاملرنه وکړئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اِ | اِي | | بِ | بِي |
| تِ | تِي | | ثِ | ثِي |
| جِ | جِي | | حِ | حِي |
| خِ | خِي | | دِ | دِي |
| ذِ | ذِي | | رِ | رِي |
| زِ | زِي | | سِ | سِي |
| شِ | شِي | | صِ | صِي |
| ضِ | ضِي | | طِ | طِي |
| ظِ | ظِي | | عِ | عِي |
| غِ | غِي | | فِ | فِي |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په قرآن کریم کې په ځینو ځایونوکې یا په کوچني ډول په توري پسې لیکل شوې وي، لاندې مثالونو ته پاملرنه وکړئ:**

بَـعْدِهِۦ = بَعْدِهِي   بِهِۦ = بِهِي   رُسُلِهِۦ = رُسُلِهِي   مَلَـٰٓئِكَتِهِۦ = مَلاَئِكَتِهِي

**هڅونه :**

لاندې جدول د درسي جدول په ډول ډک کړئ :

| له زېر سره توری | له یا سره توری | | له زېر سره توری | له یا  سره توری |
|---|---|---|---|---|
| ف | | | ق | |
| ک | | | ل | |
| م | | | ن | |
| و | | | هــ | |
| و | | | ب | |

**ارزونه:**

آیا زده کوونکي کولای شي توري له یا سره سم تلفظ کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهم لوست

# ترکيبي حروف

**هدف:**

له ترکيبي تورو سره آشنايي

**پوښتنه:**

آيا د حروفو مختلف شکلونه پېژنئ؟

تېرکال مو ولوستل، چې حروف کله په لومړي سرکې، کله په منځ کې او کله هم د کلمې پای کې راځي. مختلف شکلونه به يې ووينئ. لاندې جدول ته پاملرنه وکړئ:

| وروستی توری | دمنځ توری | لومړی توری | يواځې توری |
|---|---|---|---|
| ـا | ـــا | ا | ا |
| ـــب | ـــبــ | بـ | ب |
| ـــت | ـــتــ | تـ | ت |
| ـــث | ـــثــ | ثـ | ث |
| ـــج | ـــجــ | جـ | ج |
| ـــح | ـــحــ | حـ | ح |
| ـــخ | ـــخــ | خـ | خ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| د | د | ـد | ـد |
| ذ | ذ | ـذ | ـذ |
| ر | ر | ـر | ـر |
| ز | ز | ـز | ـز |
| س | سـ | ـسـ | ـس |
| ش | شـ | ـشـ | ـش |
| ص | صـ | ـصـ | ـص |
| ض | ضـ | ـضـ | ـض |
| ط | طـ | ـط | ـط |
| ظ | ظـ | ـظ | ـظ |
| ع | عـ | ـعـ | ـع |
| غ | غـ | ـغـ | ـغ |
| ف | فـ | ـفـ | ـف |
| ق | قـ | ـقـ | ـق |
| ک | کـ | ـکـ | ـک |
| ل | لـ | ـلـ | ـل |
| م | مـ | ـمـ | ـم |
| ن | نـ | ـنـ | ـن |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ـــو | ـــو | و | و |
| ـــه | ـــهـ | هـ | ه |
| ـــی | ـــيـ | يـ | ی |

**که پام موکړې وي، ځینې حروف د کلمې په پای کې تغییر نه خوري.**

**هڅونه :**

**لاندې کلمې ولولئ اوځرګنده کړئ، چې هر توری ترکیبي شکل لري. د ترکیبي تورو شکلونه د کلمو په وړاندې کېږدئ:**

**مثال:** اَلْحَمْدُ = ا لـــ ـــحـــ ـــمـــ ـــد

نَعْبُدُ =

اِهْــدِنَــا =

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لسم لوست

# د اخلاص سورت هجايي لوستل

**هدف:**

د قرآن کريم له هجايي لوستلوسره آشنايي

**پوښتني:**

- آيا تاسو له هجايي لوستلوسره بلد ياست؟
- آيا تاسوکولای شئ چي د اخلاص سورت په هجايي تلاوت کړئ؟

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

| |
|---|
| قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ |
| قُ لۡ هُ وَ ٱ ل لَّ ه أَ حَـ دٌ ٱ ل لَّ ه ٱ ل صَّـ مَـ دُ |
| لَمۡ يَـلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ |
| لَ مۡ يَـ لِ دۡ وَ لَ مۡ يُ و لَ دۡ |
| وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ |
| وَ لَ مۡ يَـ كُ ن لَّ هُۥ كُ فُ وًا أَ حَـ دُۢ |

**هڅونه :** زده کوونکي دي د اخلاص سورت هجايي ولولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يوولسم لوست

# د الکوثر سورت هجايي لوستل

**هدف:**

د قرآن کريم له هجايي  تلاوت سره آشنايي

**پوښتنې:**

آيا تاسوکولای شئ د کوثر سورت هجايي تلاوت  وکړئ ؟

آيا تاسو تر اوسه د کوثرسورت هجايي تلاوت کړی دی؟

## دکوثرسورت په هجا سره تلاوت کړئ:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝٢ اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ ۝٣

**هڅونه:**

زده کوونکي دې د کوثرسورت هجايي تلاوت کړي.

**ارزونه:**

آيا زده کوونکي کولای شي د کوثرسورت په هجا تلاوت کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دولسم لوست

# د الفلق د سورت هجايي لوستل

**هدف:**

د قرآن کريم له هجايي لوستلو سره آشنايي

**پوښتنې:**

آيا تاسو کولای شئ د الفلق سورت هجايي تلاوت کړئ؟

آيا د الفلق سورت مو تلاوت کړی دی؟

**د الفلق سورت په هجا سره تلاوت کړئ:**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا
وَقَبَ ﴿٣﴾ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِى الْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾

**هڅونه:**

ګرانو زده کوونکو د الفلق سورت هجايي تلاوت کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دیارلسم لوست

# د الناس سورت هجايي لوستل

**هدف:**

د قرآن کریم له هجايي لوستلو سره آشنايي.

**پوښتنې:**

آیا کولای شئ قران کریم هجايي تلاوت کړئ؟

آیا تاسو د الناس سورت تلاوت کړی دی؟

د الناس سورت هجايي تلاوت کړئ:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿٢﴾ إِلٰهِ النَّاسِ ﴿٣﴾
مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِیْ يُوَسْوِسُ فِیْ
صُدُوْرِ النَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿٦﴾

**هڅونه:**

زده کوونکو د الناس سورت هجايي تلاوت کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خوارلسم لوست

# د الاخلاص سورت تلاوت او حفظ

**هدف:**

د اخلاص د سورت رواني تلاوت او حفظ کول

**پوښتنې:**

آیا تاسو کولای شئ، چې قرآن کریم په رواني تلاوت کړئ؟

آیا د اخلاص سورت مو یاد دی؟

د اخلاص سورت حفظ کړئ او بیا يې تلاوت کړئ:

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ ﴿١﴾ اَللهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ
يُوْلَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴿٤﴾

**هڅوني:**

د اخلاص سورت رواني تلاوت کړئ.

د اخلاص سورت حفظ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځلسم لوست

# د الحمد سورت تلاوت او حفظ

**هدف:**

د الحمد د سورت رواني تلاوت او حفظ کول

**پوښتنې :**

آیاتاسو کولای شئ د الحمد سورت تلاوت کړئ؟

آیا د الحمد سورت موحفظ کړی دی؟

**د الحمد سورت حفظ کړئ او په رواني سره یې تلاوت کړئ:**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿١﴾
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢﴾ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿٣﴾
مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٤﴾ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ
﴿٥﴾ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ
عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ﴿٧﴾

**هڅونه:**

د الحمد سورت حفظ کړئ او په رواني سره یې تلاوت کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپاړسم لوست

# د النصر سورت تلاوت او حفظ

**هدف:**

د النصر د سورت رواني تلاوت او حفظ کول

**پوښتني:**

آيا د النصر سورت رواني لوستلی شئ؟

آيا د  النصر سورت مو حفظ کړی دی؟

**د النصر سورت حفظ او په رواني يې تلاوت کړئ.**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ﴿١﴾ وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ
اللّٰهِ اَفْوَاجًا ﴿٢﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ﴿٣﴾

**هڅوني:**

د النصر سورت حفظ کړئ

د النصر سورت په رواني ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوولسم لوست

# د الکافرون سورت رواني تلاوت

**هدف:**

د الکافرون د سورت د رواني تلاوت زده کړه

**پوښتنه:**

آیا د الکافرون سورت رواني تلاوت کولای شئ؟

**د الکافرون سورت رواني تلاوت کړئ.**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۝١ لَآ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۝٢
وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۝٣ وَلَآ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۝٤ وَ
لَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۝٥ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ۝٦

**هڅونه:**

هر زده کوونکی دې د الکافرون سورت په رواني تلاوت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسلامي ښوونې او روزنې برخه

# لومړی فصل

# عقيده

## لومړی لوست

## د اسلام بناګانې (بنسټونه)

**هدف:** د اسلام د پنځو بناوو پيژندنه

آيا د اسلام پنځه بناوې پيژنئ؟

**د اسلام مبارک دين پنځه بناوې لري:**

**۱ - د طيبې کلمې ويل** **۲– لمونځ کول**

**۳ - روژه نيول** **۴ - زکات ورکول**

**۵ - د بيت الله حج کول**

**هڅونې:**

زده کوونکي دې په فردي او ډله ييزه توګه د اسلام د پنځو بناوو په باره کې خبرې وکړي.


زده کوونکي دې د اسلام د پنځو بناوو په باره کې يوله بل څخه پوښتنې وکړي.

**ارزونه:**

۱ - آيا د اسلام پنځه بناوې مو پيژندلي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم لوست




# ۱ - طیبه کلمه

**هدف:** د طیبې کلمې سم تلفظ کول، او د هغې په محتوا پوره پوهیدل
ځوک کولای شي طیبه کلمه سمه ووایي؟
ځوک کولای شي د طیبې کلمې معنا ووایي؟


**طیبه کلمه: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّه**

**د طیبې کلمې معنا: نشته د عبادت لایق وړ مګـــر یـــو الله تعـــالی دی او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی پیغمبر او استازی دی.**

**هځونه:**
زده کوونکي دې طیبه کلمه په فردي او ډله ییزه توګه په لوړ آواز سره ووایي او د هغې معنا دې هم په ساده ژبه سره ووایي.

**ارزونه**
۱ - د طیبې کلمې معنا څه ده هغه ووایئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم لوست

# د ایمان ارکان

**هدف:** د اوو ۷ اعتقادي ا رکانو پیژندنه

آیا د خپلې عقیدې اووه ۷ رکنونه مو پیژندلي دي؟

**ایمان لاندې اووه ۷ رکنونه لري چې نومونه یې اخلو:**

**- په الله تعالی باندې ایمان لرل**

**- په ملائکو باندې ایمان لرل**

**- په آسماني کتابونو باندې ایمان لرل**

**- د الله تعالی په انبیاؤ علیهم السلام باندې ایمان لرل**

**- دآخرت په ورځ باندې ایمان لرل**

**- په دې باندې ایمان لرل چې د خیر اوشر اندازه د الله تعالی له خوا ځخه ده**

**- وروسته له مرګه په بیا ژوندون ایمان لرل**

**هڅوني:**

د ایمان رکنونه څوک ویلای شي؟ د ایمان رکنونه یو له بل څخه وپوښتئ اود ټولو زده کوونکو ځوابونه په ځیر سره واورئ. د ایمان د معنا په هکله یو له بل څخه پوښتنې وکړئ.

**ارزونه:**

د ایمان د رکنونو په هکله چې څومره پوهیږئ خبرې پرې وکړئ.

<u>**نوټ:**</u> رکن د یو شي بنیاد، بنسټ ته ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شلورم لوست



# ۱ - په الله تعالی ایمان

**هدف:** په الله تعالی باندې د ایمان په هکله معلومات اود هغه پیژندنه

آیا په الله تعالی باندې د ایمان په هکله خبرې کولای شئ ؟

ایمان او باور لرو چې الله تعالی شته او یو دی.

په هرڅه قادر او توانا دی.

هر څه چي وغواړي هغه کولای شي.

موږ او ټول عالم يې پيداکړي يو.

هیچاته اړ او محتاج نه دی.

هیڅ شی د خدای جل جلاله په مثل نه دی.

**هڅونه:**

زده کوونکي دې په خپله ژبه د الله تعالی په باره کې خبرې وکړي او محترم ښوونکی دې په ډېره مینه د هغوی خبرې اصلاح کړي.

**ارزونې:**

۱ - په الله تعالی باندې د ایمان په هکله موڅه زده کړي دي؟

۲ -په الله تعالی څرنګه عقیده لرئ؟ په خپله ژبه يې ووايئ.

۳ - عالم کوم ذات پیداکړی دی؟ د عالم ښکلا د څه شي دلیل دی؟

---

ښاغلی ښوونکی دې د الله تعالی د صفتونو په باره کې زده کوونکو ته په ساده ژبه معلومات ورکړي.

**نوټ:** عالَمْ پرته له الله تعالی ټولو موجوداتو ته عالم ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم لوست

# ۲ - په ملائکو ایمان

**هدف:** د ملائکو پېژندل او په هغوې باندې ایمان لرل.

ملائکه یعنې څه ؟ په څه ډول باید په هغوې باندې ایمان ولرو؟

**مونږ ټول مؤمنان عقیده او باور لرو چې ملائکې شته او د الله تعالی مخلــوق دی.**

**ملائکې له نور څخه پیداشوې دي او د الله تعالی له فرمان څخــه غــاړه نــه غړوي، د الله تعالی په عبادت مشغولې دي او خپلې دندې په پوره امانتــداری سرته رسوي.**

**هڅونې:**

زده کوونکي دې د ملائکو په باره کې په خپل منځ کې خبرې وکړي.

د ملائکو د شته والي وجود په باره کې دې یوله بل څخه پوښتنې وکړي.

**ارزونې:**

۱ - مونږ ولې په ملائکو باندې ایمان لرو؟

۲ -ملائکې د الله تعالی څرنګه مخلوق دی؟

۳ -ملائکې له څه شي څخه پیدا شوې دي؟

---

محترم ښوونکی باید زده کوونکو ته معلومات ورکړي چې الله تعالی څو ډوله مخلوق پیدا کړی دی او د هغه له جملې څخه یې ملائکې له نورڅخه پیداکړې دي.

**نوټ:** په ملائکو باندې ایمان لرل د اسلامي او ديني عقیدې یوه برخه ده.

مخلوق کوم شی چې الله تعالی پیداکړی دی مخلوق ورته ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم لوست

# ۳- په آسماني کتابونو باندې ایمان

**هدف:** په آسماني کتابونو باندې د ایمان په طریقه پوهېدل

آسماني کتابونه یعنی څه ؟

آسماني کتابونه کوم دي؟

ایمان او عقیده لرو، الله تعالی د انسانانو د لارښوونې لپاره کتابونه را نازل کړي دي چې د آسماني کتابونو په نامه یادیږي.

له دغو کتابونو څخه ځینې واړه کتابونه دي، چې د صحیفو په نامه یادیږي.

آسماني لوی کتابونه تورات ، زبور ، انجیل، او قرآن کریم دي.

ټول دغه کتابونه حق دي او په خپل وخت کې د انسانانو لپاره د نجات موجب ګرځیدلي دي.

قرآن کریم د آسماني کتابونو وروستی کتاب دی چې د قیامت تر ورځې پورې به باقي وي.

**هڅونې:**

۱ - دآسماني کتابونو په باره کې په خپله ژبه خبرې وکړئ.

۲ - د درس خلاصه په فردي اوډله ییزه توګه ووایاست.

**ارزونې:**

۱ -د آسماني کتابونو نومونه واخلئ.

۲ - وروستی آسماني کتاب څه نوم لري؟

---

ښاغلی ښوونکیه د لوست موضوع په ډېره ساده ژبه سره توضیح کړئ او د آسماني صحیفو په باره کې زده کوونکو ته مناسب معلومات ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووم لوست

# ۴ - په انبیاؤ عليهم الصلاة والسلام ايمان

**هدف:** د انبیاؤ علیهم السلام د رسالت پېژندل او په هغوی ایمان لرل کومو اشخاصو ته انبیاء علیهم السلام ویل کېږي؟

ايمان او عقيده لرو چې ټول انبیاء علیهم السلام د الله تعالی له خوا د انسانانو د لارښوونې لپاره را استول شوي دي.

ټول انبیاء علیهم السلام په حقه او رېښتيني دي، د الله تعالی حکمونه يې په پوره امانتدارۍ او رښتينولۍ سره خلکو ته رسولي دي. لومړنی پيغمبر حضرت آدم علیه السلام او وروستنی پيغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی.

**هڅونې:**

۱ - د انبیاؤ علیهم السلام په باره کې په خپلو ژبو خبرې وکړئ.
۲ - د انبیاؤ علیهم السلام د وظیفو په باره کې په فردي او ډله ییزه توګه سره خبرې وکړئ.

**ارزونې:**

۱ - انبیاء علیهم السلام دکوم غرض لپاره را استول شوي دي؟
۲ - لومړنی نبي څوک دی؟

---

ښاغلی ښوونکیه د انبیاؤ علیهم السلام په باره کې په ساده ژبه زده کوونکو ته معلومات ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اتم لوست

# ۵- د آخرت په ورځ ایمان

**هدف:** د آخرت د ورځې پیژندل او په هغې ایمان درلودل

آخرت یعنی څه ؟

**ایمان او عقیده لرو، یوه ورځ راتلونکې ده چې د آخرت د ورځې پــه نامــه یادیږي. په دې ورځ د انسانانو عملونه محاسبه کیږي او هر چاته د خپل عمــل سزا او ثواب ورکول کیږي. هغه انسان چې مؤمن وي او ښه عملونه یې کــړي وي، جنت ته به ځي. له حق د ین څخه منکران او بدکاران به دوزخ ته ځي.**

**هڅونې:**

۱ - زده کوونکي دې د آخرت د ورځې په باره کې په فردي او ډله ییزه توګه خبرې وکړي.

۲ - یوه یوه جمله دې د آخرت د ورځې په باره کې ووایي.

**ارزونې:**

۱ - د آخرت ورځ څنګه ورځ ده؟

۲ - له مؤمنانو سره په هغه ورځ څه کیږي؟

---

ښاغلی ښوونکیه درس په ساده ژبه دزده کوونکو له سویې سره سم شرح کړئ او مناسب معلومات وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهم لوست

# ٦ - په الهي تقدير باندې ایمان

# ((د خير اوشر په اندازه باندې ایمان))

**هدف:** په الهي تقدير باندې د ایمان له طريقې سره آشنايي
آيا د خير اوشر په معنا پوهېږئ؟

**ایمان او عقیده لرو چې د خير او شر اندازه د الله تعالى له خوا ده، یعنی الله تعالى په خپله د خير او شر اندازه ټاکلې ده.**

**خو انسانان د ښو اوبدو کارونو د کولو اختيار لري. حکیم خدای جل جلاله بندګان د ښو کارونو په کولو مأمور کړي دي او له بدوکارونو څخه يې منع کړي دي.**

**هڅونې:**

١. زده کوونکي دې د الهي تقدير معنا په خپلو ژبو سره بيان کړي.
٢. د درس د محتوا په باره کې دې په هغه څه چې زده کړي يې دي په فردي او ډله ييزه توګه خبرې وکړي.

**ارزونې:**

١. د خير او شر معنا ووایاست
٢. د درس حاصل په خپلو ژبو بيان کړئ

---

ښاغلی ښوونکیه د درس متن توضيح کړئ او له زده کوونکو سره د هغوی په فعالیت کې په زړه پورې ګډون وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لسم لوست

# (۷)-له مرګه وروسته
# په بیا ژوندون عقیده

**هدف:** د بیا ژوندون پيژندنه او په هغه باندې عقیده لرل
ایا د بیا ژوندون په هکله څه پوهيږئ؟

**ایمان لرو، چې ټول انسانان له مرګه وروسته بیا ژوندي کيږي. بیا ژوندون حق دی.**

**هغه ژوند د اخروي ژوندون اویا ابدي ژوندون په نامه يـــاديږي. پـــه اخـــروي ژوندون د ټولو اسماني اديانو پيروان عقيده لري. په اخروي ژوندون کې هـــر انسان ته د هغه د دنيايي عملونو موافق مکافات او مجازات ثـــواب او ســـزا ورکول کيږي.**

**هڅونې:**
۱_ د اخروي ژوند په هکله يوه يوه جمله په خپلو ژبو ووايئ.
۲_ د اخروي ژوند په باره کې خبرې وکړئ.

**ارزونه:** آیا د زده کوونکو ټولو پوښتنو ته ځواب ورکړل شوی دی ؟

---

محترم ښوونکیه لوست په ډيره ساده ژبه سره تشريح کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم فصل

# فقه

**سريزه:** ګرانو زده کوونکو دينی زده کړه درې برخي لری. عقيده، فقه او اخلاق . په لومړۍ برخه کې مو د عقيدې په اړه بحث وکړ. په دې برخې کې د يو لړ فقهي مسائلو لکه: اودس او لمونځ پـــه هکله خبرې کوو:

## يوولسم لوست

## د طهارت (پاکی) احکام

**هدف:** د طهارت پاکی د احکامو پيژندنه

آيا د طهارت له معنا او احکامو سره آشنا ياست؟

**طهارت د پاکی په معنا دی او پاکي په دوه ډوله ده:**

**الف: ظاهري پاکي.**

**ب: حکمي پاکي.**

**الف:ظاهري پاکي: له خپل ځان او يا جامو څخه د ناپاکو شيانو پريمنځلو تـــه ظاهري پاکي وايي.**

**ب: حکمي پاکي: کله چې اودس يا تيمم کوو، په شرعي لحاظ پـــاک ګڼـــل کيږو. لمونځ او نور عبادتونه راته روا کيږي نو دې ته حکمي پاکي وايي.**

**هڅوني:**

۱. د شرعي ظاهري پاکی يو مثال ووايئ.

۲. پاکوالی په فردي او ډله ييزه توګه په خپله ژبه بيان کړئ.

**ارزوني:**

۱ -پاکوالی يعنی څه؟

۲ - د پاکوالي ډولونه ووایاست

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دولسم لوست

# د اوداسه فرضونه

**هدف:** د اوداسه د فرضونو پېژندنه

آیا د اوداسه د فرضونو په هکله څه معلومات لرئ؟

**د اوداسه فرضونه څلور دي:**

**۱-د مخ پرېمنځل**

**۲- له څنګلو سره د دواړو لاسونو پرېمنځل**

**۳-د سر د څلورمې برخې مسح کول**

**۴_ له ښنګرو سره د دواړو پښو پرېمنځل**

**هڅوني:**

۱_ زده کوونکي دې د اوداسه فرضونه په خپلو ژبو سره ووايي.

۲_ د اوداسه فرضونه په اندامو سره تمثیل کړئ.

**ارزونه:**

د اوداسه د فرضو نومونه واخلئ، او څرنګه کولای شئ چې اودس په عملي توګه تمثیل کړئ.

---

ښاغلی ښوونکیه لطفا د مخ لاسونو او پښو د پرېمنځلو اندازه او همدارنګه د سر د مسحې انــــدازه عملا زده کوونکو ته په ټولګي کې په شرعي ترتیب سره وښیئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دیارلسم او څوارلسم لوست

# د اوداسه ترتیب

**هدف:** د اوداسه د سنتونو پیژندنه

آیا اودس مو زده دی؟

**کله چې یو مسلمان وغواړي لمونځ اداء کړي، نو لومړی له خپل بدن څخه ظاهري نجاست لرې کوي، یعنې استنجا کوي. بیا په لاندې ډول سره اودس کوي.**

**۱- بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیمِ وایي او نیت تړي یعنې د اوداسه اراده کوي.**
**۲- دواړه لاسونه تر مړوندونو پورې پرېمنځي.**
**۳- درې ځله خپله خوله پرېمنځي.**
**۴- مسواک وهي.**
**۵- پزه درې ځله پرېمنځي.**
**۶- مخ درې ځله پرېمینځي.**
**۷- دواړه لاسونه درې ځله تر څنګلو پورې پریمنځي.**
**۸- د لاسونو ګوتې باید خلال کړل شي که یې ګوته یا حلقه په ګوته یا لاس کې وي، هغه دې وخوځوي.**
**۹- ټول سردې د یوځل لپاره مسح کړي.**
**۱۰- په غتې اود شهادت په ګوتو دې د غوږونو داخلي او باندینۍ برخې مسح کړي.**
**۱۱-دګوتو په شا دې خپله غاړه مسح کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۲- پښې دې درې ځله تر ښنګرو پورې پريمنځي.**

**۱۳- د پښوګوتې دې هم خلال کړي.**

**۱۴- اودس بايد په ترتيب سره وکړي.**

**۱۵- همدا راز د لاسونو او پښو په پريمنځلو کې دې له ښي خـــوا څخـــه پيـــل وکړي.**

**۱٦- په اوداسه کې د اعضاؤ پرېمنځل اومسحه کول بايد يو په بل پسې وشي او د اوداسه په منځ کي دې په نورو کارونو بوخت نه شي.**

**هځونه:**

زده کوونکي دې د اوداسه سنت په فردي او ډله ييزه توګه بيان کړي.

**ارزونې:**

۱_ د اوداسه له پيل څخه مخکې بايد څه وکړو؟

۲_ د اوداسه سنت ووایاست.

## پنځلسم لوست

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لمانځه بهرني فرضونه (شرطونه)

**هدف:** د لمانځه د بهرنیو فرضونو پېژندنه.

لمونځ په هر مکلف مسلمان باندې پنځه وخته فرض عین دی. لمونځ خارجي او داخلي فرضونه لري.

له دې مخکې چې لمونځ اداء کړو، باید لاندني اته خارجي فرضــونه او یـــا د لمانځه شرطونه مو پوره کړي وي:

۱. شرعي پاکي یعنې اودس لرل.
۲. له ظاهري ناپاکۍ څخه د بدن پاکوالی.
۳. د هغه ځای پاکوالی چې لمونځ ورباندې اداء کېږي.
۴. په جامه باندې د عورت پټوالی یعنې ستر عورت .
۵. د قبلې کعبې شریفې په لور مخامخ درېدل.
۶. د لمانځه نیت کول.
۷. د لمانځه وخت پېژندل یعنې د وخت د داخلیدو په صورت کې لمونځ کول.
۸. لومړی تکبیر.

**هڅونې:**

۱. د لمانځه شرطونه کوم دي په دې باره کې خبرې وکړئ.
۲. یوتن زده کوونکی دې د لمانځه شرطونه ووایي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

**ارزونه:**

د لمانځه بهرني فرضونه څو او کوم دي؟

---

ښاغلی ښوونکیه د لمانځه د شرطونو په هکله پوره معلومات ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپاړسم لوست

# د لمانځه داخلي فرضونه (رکنونه)

**هدف:** د لمانځه د داخلي فرضونو پيژندنه

آيا د لمانځه داخلي فرضونه پيژنئ؟

**د لمانځه داخلي فرضونه اووه ۷ دي چې په لاندې ډول بيانيږي:**

**۱- قيام يعنې درېدل**

**۲- قرائت يعنې د څو آيتونو لوستل**

**۳- رکوع کول**

**۴- سجده کول**

**۵- وروستۍ قعده کېناستل**

**۶- د لمونځ کوونکي په عمل سره له لمانځه څخه وتل**

**۷- په هغو فرضونو کې د ترتيب رعايت چې په لمانځه کې يو ځلې راغلـــي وي.**

**هڅوني:**

۱. څو تنه زده کوونکي دې د لمانځه داخلي فرضونه په عملي توګه تمثيل کړي.

۲. داخلي فرضونه دې په خپلو ژبو سره ووايي.

**ارزونه:**

۱ - د قرائت اندازه وواياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د لمانځه داخلي فرضونه



۱- ۲- دقیام او قرائت حالت



۳- درکوع حالت



٤- دسجدې حالت



۵- د وروستنۍ قعدې حالت



٦- له لمانځه څخه دوتلوحالت

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوولسم لوست

# د لمانځه د رکعتونو شمېر

پوهیږو چې لمونځ په یوه شپه او ورځ کې پنځه ۵ وخته فرض دی:
سهار، ماسپښین، مازیګر، ماښام، او ماخوستن. د هر وخت دلمانځه رکعتونه بېل بېل شمېر لري چې په لاندې ډول سره ښودل کېږي.

# د سهار د لمانځه د رکعتونو شمېر

**هدف:** د سهار د لمانځه د رکعتونو د شمېر پیژندنه

د سهار لمونځ څلور رکعته دی. لومړی دوه ۲ رکعته سنت بیا دوه ۲ رکعته فرض اداء کیږي.

**د سهار لمونځ**




**هڅوني:**

۱- د سهار د لمانځه د رکعتونو شمېر په خپلو ژبو سره ووایاست.
۲- د سهارد لمانځه د اداء کولو طریقه بیان کړئ.

---

محترم ښوونکیه د ډک او تش اصطلاح زده کوونکو ته توضیح کړئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## اتلسم لوست

# د ماسپښین لمونځ

**هدف:** د ماسپښین د لمانځه د رکعتونو د شمېر پېژندنه
د ماسپښین لمونځ څو رکعته دی او څرنګه اداء کېږي ؟

**د ماسپښین لمونځ لس ۱۰ رکعته دی. لومړی څلور ۴ رکعته مؤکد سنت، بیا څلور ۴ رکعته فرض او وروسته دوه ۲ رکعته مؤکد سنت اداء کیږي. د فرض لمانځه لومړني دوه رکعته ډک او وروستني دوه رکعته یې خالي اداء کیږي، مګر د سنت لمانځه ټول رکعتونه ډک اداء کیږي.**




**هڅوني:**

۱. د ماسپښین د لمانځه د رکعتونو د شمېرپه هکله یو له بل څخه پوښتنې وکړئ.
۲. په فردي او ډله ییزه توګه د ماسپښین د لمانځه اداء کول د حرکاتو له لارې تمثیل کړئ.

**ارزوني:**

۱ - د ماسپښین لمونځ څو رکعته دی؟
۲_ د ماسپښین سنت لمونځ څو رکعته دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نولسم لوست

# د مازیگر لمونځ


**هدف:** د مازیگر د لمانځه د رکعتونو د شمېر پيژندنه

د مازيگر د لمانځه د رکعتونو له شمېر سره آشنا ياست؟ څرنگه اداء کېږي؟

**د مازيگر لمونځ څلور رکعته فرض دی، چې دوه ۲ لومړني رکعتونه يې ډک او دوه ۲ وروستني رکعتونه يې تش اداء کيږي.**

**د مازيگر لمونځ**

**څلور فرض**




**هڅوني:**

۱. زده کوونکي دې د مازيگر د لمانځه اداء کول په خپلو ژبو سره بيان کړي.

۲. زده کوونکي دې د مازيگر لمونځ په حرکاتو سره تمثيل کړي.

**ارزونه:**

د مازيگر لمونځ فرض دی که سنت ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شلم لوست

# د ماښام لمونځ

**هدف:** د ماښام د لمانځه د رکعتونو د شمېر پېژندنه

آیا ویلای شئ چې د ماښام لمونځ څو رکعته دی او څرنګه اداء کېږي ؟

**د ماښام لمونځ پنځه ۵ رکعته دی چې لومړی درې رکعته فرض بیا وروسته دوه ۲ رکعته مؤکد سنت اداء کېږي.**

**د درې ۳ رکعتو له جملې څخه لومړني دوه رکعته ۲ ډک او آخیرنی یو رکعت یې تش اداء کېږي.**




**هڅوني:**

۱. زده کوونکي دې د ماښام د لمانځه د اداء کولو په باره کې په فردي او ډله ییزه توګه خبرې وکړي.

۲. د ماښام د لمانځه په هکله یو له بل څخه پوښتنې وکړئ.

**ارزوني:**

۱ - د ماښام لمونځ څو رکعته دی؟

۲ - د ماښام د لمانځه د اداکولو طریقه د حرکاتو په وسیله تمثیل کړئ.

---

ښاغلی ښوونکیه د ماښام د لمانځه د وخت په باره کې زده کوونکو ته معلومات ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يوويشتم لوست


# د ماخوستن لمونځ

**هدف:** د ماخوستن د لمانځه د رکعتونو د شمېر پېژندنه

د ماخوستن لمونځ څرنگه اداء کيږي؟

**د ماخوستن لمونځ نهه ۹ رکعته دی چې لومړی څلور رکعته فرض، بيا دوه رکعته مؤکد سنت او وروسته درې ۳ رکعته وتر واجب لمونځ اداء کيږي.**

**د فرضو له جملې څخه دوه ۲ لومړني رکعتونه ډک او دوه ۲ وروستني يې تش اداء کيږي. او د وتر لمانځه په دريم رکعت کې د قنوت دعا هم ويل کيږي.**




**هڅوني:**

۱ - د ماخوستن د لمانځه د رکعتونو د شمېر په هکله په فردي او ډله ييزه توگه خبرې وکړئ.

۲ - د ماخوستن د لمانځه د اداء کولو طريقه په خپلو ژبو سره ووايئ.

**ارزوني:**

۱ -د ماخوستن لمونځ څو رکعته دی ؟

۲ -د ماخوستن مؤکد سنت لمونځ څو رکعته دی ؟

۳ - وتر لمونځ څو رکعته دی ؟

---

محترم ښوونکيه د وترواجب لمانځه د اداء کولو د طريقې په ويلو کې له زده کوونکو سره مرسته وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه ویشتم لوست

# د لمانځه د اداء کولو ترتیب

**هدف:** د لومړي تکبیر د حالت پیژندنه
لمونځ څرنګه پیل کیږي؟

د لمانځه د اداء کولو په وخت کې باید اودس ولرو بیا د قبلې لورته مخامخ ودریږو، نیت کوو، وروسته دواړه لاسونه د غوږونو لورته پورته کوو د غټو ګوتو سرونه د غوږونو نرمیوته رسوو او الله اکبر وایو، وروسته دواړه لاسونه ښکته کوو د ښي لاس ورغوی د چپ لاس د مړوند پرشا باندې ږدو. غټه او کوچنۍ ګوته ترې تاوه وو. بیا یې تر نامه لاندې نیسو.

**هڅونې:**

١- زده کوونکي باید لومړی تکبیر تمثیل کړي.
٢- د نیت په باره کې دې خبرې وکړي.

**ارزونه:**

١ - څه وخت د لمانځه نیت کوو؟

---

ښاغلی ښوونکیه د لومړي تکبیر حالت اوفرض، سنت ، وتر واجب لمونځونو نیت، زده کوونکو تـــه بیان او توضیح کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درویشتم  لوست

# د ثنا ویل

**هدف:** د سبحانک.... سم ویل او زده کول
څوک کولای شي ثناء صحیح تلفظ کړي؟

## ثنا

[illegible].

**هڅوني:**

۱- په ډله ییزه توګه د ثنا ویل تمرین کړئ.
۲- څو تنه زده کوونکي دې اعوذ بالله .... اوبسم الله .... په لوړ آواز سره ووایئ.

**ارزوني:**

۱ -په فردي او ډله ییزه توګه سبحانک ..... ووایئ.
۲ - شد ّ لرونکې کلمې وپیژنئ.

---

ښاغلی ښوونکیه  د پورتني متن په تدریس کې د زده کوونکو سم تلفظ او ژبني مهارت  ته پوره پاملرنه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځلیرویشتم لوست

# د فاتحې سورت

**هدف:** د فاتحې د سورت سم لوستل او د هغې د ویلو ځای پېژندنه
څوک کولای شي الحمدلله... په سمه توګه ولولي؟
له ثنا څخه وروسته د فاتحې سورت وایو:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿١﴾
الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٢﴾ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣﴾
مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ
﴿٥﴾ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ
عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴿٧﴾

**هڅونه:**

په رواني ډول سره د الحمد لله... سم لوستل او د ّ لرونکو کلمو پېژندنه

**ارزونه:**

د الحمد لله...د متن کلمه له زده کوونکو څخه وپوښتئ.

---

محترم ښوونکیه د پورتني متن په تدریس کې زیاتره سم لوستلو او د زده کوونکو ژبني مهارت ته پاملرنه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځه ویشتم لوست

# قرائت او رکوع

**هدف:** د قیام، قرائت، رکوع، سجدې د حالت پیژندنه او د اخلاص د سورت سم لوستل

الحمدلله او د اخلاص سورت کوم وخت لوستل کیږي ؟

**له الحمدلله څخه وروسته یو سورت مثلاً د اخلاص سورت وایو.**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ اَللهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿٤﴾

**وروسته الله اکبر وایو، رکوع ته ټیټیږو، په داسې ډول سره چې د دواړو لاسونو په منګولو مو دواړه ځنګنونه ټینګ نیلولي وي، درې ځله سُبْحَانَ رَبِيَ الْعَظِيْم وایو. له هغه وروسته د پورته کیدو په حالت کې سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهْ، رَبَنَا لَکَ الْحَمْدُ وایو او یوه شیبه سم دریږو چې دغو دریدلو ته قومه وایي.**

**هڅوني:**

١. قل هو الله . . . په فردي او ډله ییزه توګه سم ولولئ.

٢. د رکوع حالت تمثیل کړئ.

**ارزوني:**

١ـ د فاتحې له سورت نه وروسته څه لوستل کیږي؟

٢ـ په رکوع کې څه ویل کیږي؟

---

ښاغلی ښوونکیه له زده کوونکو سره د قل هو الله ... سمع الله ... په سم لوستلو کې مرسته وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږ ویشتم لوست

# سجده

**هدف:** د سجدې د حالت او طریقې پېژندنه

بیا الله اکبر وایو سجدې ته ځو او په داسې توګه سجده کوو چې پزه او تندی وچولی مو د دواړو لاسونو د ګوتو په منځ کې ایښي وي.

په سجده کې درې ۳ ځله سُبْحٰانَ رَبِیَ الْاَعْلیٰ) وایو. له هغه وروسته الله اکبر وایو.

له سجدې څخه راپورته کېږو او یوه شېبه آرام کېنو، چې دې ناستې ته جلسه وایي.

بیا الله اکبر وایو. دویمې سجدې ته ښکته کېږو او دویمه سجده د اولې لومړۍ سجدې په څیر اداء کوو. په دې سجده کې هم درې ۳ ځله سُبْحٰانَ رَبِیَ الْاَعْلیٰ وایو.

**هڅونه:**

۱ - زده کوونکي دې د سجدې په باره کې په خپله ژبه خبرې وکړي.

**ارزونې:**

۱ - په سجده کې څه ویل کیږي؟

۲ - د جلسې حالت کوم دی؟

۳ - د سجدې حالت په خپله ژبه ووایئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووه ویشتم لوست

# دویم رکعت

**هدف:** د دویم رکعت پېژندل
دویم رکعت څه رنګه اداء کیږي؟

**د دویمې سجدې له اداء کولو څخه وروسته الله اکبر وایو او بیا دویم رکعت ته درېږو. له بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ څخه وروسته. اَلْحَمْدُ لِلَّهِ....او یو سورت وایو او رکوع ته کښته کیږو. دویم رکعت د لومړي رکعت په څیر اداء کوو.**

**هڅونې:**
۱- د دویم رکعت په باره کې په فردي او ډله ییزه توګه خبرې وکړئ.
۲- د دویم رکعت په باره کې یو له بل څخه پوښتنې وکړئ.

**ارزونه:**
۱- په دویم رکعت کې څه ویل کیږي؟

---

ښاغلی ښوونکیه زده کوونکو ته دا څرګنده کړئ، چې په دویم رکعت کې د لاس پورته کول، د ثنا او اَعُوْذُ بِاللهِ ... ویل نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اته ویشتم لوست

# تشهد ( قعده )

**هدف:** د تشهد سم لوستل
څوک کولی شي تشهد ووايي ؟
د تشهد د لوستلو ځای وپیژنئ.

**د دویم رکعت له دویمې سجدې څخه وروسته کښینو او التحیات وایـــو، پـــه لاندې ډول سره:**

[illegible]

**هڅونې:**

١- زده کوونکي دې التحیات... کلمه کلمه ووايي.
٢- قعده دې تمثیل کړي.

**ارزونې:**

**١ -** په قعده کې کوم شی لولئ؟
**٢ -** تشهد دقیق ولولئ.

---

ښاغلی ښوونکیه د لومړۍ او دویمې قعدې په باره کې زده کوونکو ته سم معلومات ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نه ويشتم لوست

# درود شريف

**هدف:** د درود شريف سم لوستل اود ويلود ځای پيژندل
ځوک کولای شي درود شريف ولولي؟

**که چېرې لمونځ دوه رکعتي وي، په دې قعده کې درود شريف وايو. او کـه چېـرې درې ۳ يا څلور رکعتي وي، دريم رکعت ته پورته کيږو او له څلورم رکعت څخـه وروسته په وروستۍ قعده کې درود شريف وايو، په لاندې ډول:**

[illegible]

[illegible]

[illegible].

**هڅونې:**

۱- درود شريف کلمه ووايئ.
۲- يوه ډله دې درود شريف په لوړ آواز سره ولولي.

**ارزونې:**

**۱ - د درود شريف د ويلو ځای وواياست.**
**۲ - يوځل په لوړ آواز درود شريف ووايئ.**

---

ښاغلی ښوونکيه له زده کوونکو سره په فعاليت کې ګډون او مرسته وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دیرشم لوست

# دعا

**هدف:** د دعا سم لوستل او د هغې د ویلو د ځای پیژندل
دعا او درود په کومه قعده کې ویل کیږي؟
څوک کولای شي دعا ووایي؟

**د درود له ویلو څخه وروسته دعا وایو:**

[illegible].

**د دعا له ویلوڅخه وروسته لومړی ښیٔ بیا چپې خواته سلام ګرځول کیږي.**

**د سلام د ګرځولو په وخت کې اَلْسَّلاَمُ عَلَیْکُمْ وَ رَحْمَةُ اللهِ وَ بَرَکَاتُـهُ ویـل کیږي.**

**هڅوني:**

۱- زده کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو وویشل شي او دعا ، السلام علیکم دې کلمه په کلمـه ووایي.

۲- د سلام ګرځولو طریقه تمثیل کړئ.

**ارزونه:**

له زده کوونکو څخه د تشهد، درود، او دعا د ویلو ځایونه وپوښتئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم فصل

# اخلاق او آداب

## یو دیرشم لوست

## ښه خوی

**هدف:** د اسلامي اخلاقو پېژندنه

د اخلاقو په باره کې په څه پوهیږئ؟

هغه انسان چې ښه خوی، ښه سلوک کړه وړه ولري، ټول خلک هغه ته د قدر په سترګه ګوري. ډېر احترام یې کوي او په نیک نامه سره یې یادوي.

د اسلام مبارک دین موږ ته لارښوونه کوي، چې ټولنیزو آدابو ته پاملرنه وکړو او د نیکو اخلاقو په ګاڼه باندې ځانونه سینګار او له خلکو سره نیک چال چلن وکړو.

**هڅونه:**

د ښو خویونو په باره کې په فردي او ډله ییزه توګه خبرې وکړئ.

**ارزونې:**

۱ - د ښو خویونو په باره کې څه فکر کوئ؟

۲ - کوم شی انسان، الله تعالی ته ور نږدې کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه دیرشم لوست

# د مور او پلار حقونه

**هدف:** زده کوونکو ته د مور او پلار په احترام کولو عادت ورکول ولې د مور او پلار احترام کوو؟

ګرانو زده کوونکو

پوهیږو چې مور او پلار پر موږ ډیر حقونه لري، خاصتاً مور ځکه چې په کوچینوالي کې مور له موږ سره زیات تکلیفونه ګاللي دي، موږ ته یې شیدې راکړې دي، پاک یې ساتلي یو. کله به چې ناروغ شوو، موږ ته به ویښه ناسته وه.
پلار موږ ته دخوړو، جامو او زموږ د ژوند د نورو اړتیا وو د برابرولو لپاره له هیڅ ډول زیار او کړاو څخه ډډه نه ده کړې.
موږ ته لازمه ده چې له خپل مور او پلار سره ډېره مینه ولرو او په ادب ورسره ژوند وکړو. حقوق یې وپیژنو، درناوی یې په ځای کړو، نصیحتونه یې ومنو او هغوی له ځان څخه راضي او خوښ وساتو تر څو الله تعالی له موږ څخه راضي شي.

**هڅونې:**

۱- زده کوونکي دې د مور او پلار حقونه تمثیل کړي.
۲- زده کوونکي دې یوه یوه جمله د مور او پلار د حقونو په برخه کې ووایي.

**ارزونې:**

۱-د مور او پلار د احترام سبب څه شی دی؟
۲-په هغه څه چې په دې باره کې پرې پوهیږئ، بیان یې کړئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درې دېرشم لوست

# د ګاونډي حقونه

**هدف:** دګاونډي د حقونو پېژندنه

ګاونډی څوک دی؟

ګاونډی هغه چاته وايي، چې زموږ د استوګنې په خواوشا کې ژوند کوي.ګاونډی د اسلام په سپيڅلي دين کې زيات حقونه لري، چې زموږ پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم د هغه د حقونو په باره کې زيات تاکيد کړی دی.

همدا راز حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د هغو پوښتنو په ځواب کې چې د ګاونډيانو د حقونو په باره کې ورڅخه شوې وې، د هغه حقونه داسې بيان کړي دي:

۱-که ګاونډي د پور غوښتنه وکړه او ستاسو په وس کې وه پور ورکړئ.

۲-دګاونډي بلنه ومنئ که چيرې په هغه کې کوم ناروا عمل نه تر سره کيده.

۳-که ناروغ شو پوښتنې ته يې ورشئ.

۴- که چيرې د نيکۍ کولو توان مو نه درلود نو زيان مه ور رسوئ.

۵-په نيک کار کې مرسته ورسره وکړئ.

٦-د غم او کړاو په وخت کې ورسره غم شريکي وکړئ او تسلي ورکړئ.

۷-د هغه د خپلوانو په جنازه کې برخه واخلئ.

۸-د خوشحالۍ په حال کې مبارکي ورته ووايئ.

۹-که موګاونډی مسافر شو، د توان په اندازه د هغه د عزت، مال اوکور ساتنه وکړئ.

۱۰-خپل کور د هغه له کور څخه مه لوړوئ.

**هڅونې:**

۱. زده کوونکی دې دګاونډي دحقونو هره فقره وپيژني.
۲. هر زده کوونکی دې يوه فقره په خپله ژبه ووايي.
۳. په ډله ييزه توګه دګاونډي د حقونو په برخه کې خبرې وکړئ.

**ارزونه:** آيازده کوونکي د لوست مطلب په خپلو ژبو سره ويلای شي؟

---

يادونه: ګاونډی هغه چا ته ويل کېږي، چې يو د بل په څنګ کې ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلور دیرشم لوست

# د مشرانو او لويانو حقونه

**هدف:** د لويانو دحقونو پيژندنه اود هغوی درناوی کول
له لويانو سره بايد څنگه چال چلن وکړو؟

**زموږ پيغمبر حضرت محمد** صلی الله عليه وسلم **داسې فرمايلي دي: څوک چې زموږ په وړو شفقت مهرباني ونه کړي او د لويانو درناوی ونه کړي زما له ډلې څخه نه دی. يعنی زما کامل اوښه امتي نه دی له دې امله کله چې لويان خبرې کوي کوچنيان بايد په ادب سره کيني او د هغوی خبرو ته غوږ کيږدي.**

**همدا راز وړوته لازمه ده چې کوم ښه کارونه چې د لويانو لخوا ورته ښودل کيږي، په ډيره ښه توگه يې سرته ورسوي.**

**هڅونې:**

۱- زده کوونکي دې يوه يوه جمله د لويانو د حقونو په هکله ووايي.
۲- د لويانو د حقونو په هکله په فردي او ډله ييزه توگه خبرې وکړئ.

**ارزونې:**

۱- محمد صلي الله عليه وسلم د لويانو د حقونو په هکله څه ويلي دي؟
۲- له لويانو سره بايد څرنگه چلن وکړو؟

---

ښاغلی ښوونکی دې د لويانو د حقونو په هکله په ساده ژبه معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځه دیرشم لوست

# د جومات ادب ساتل

**هدف:** د جومات له درناوي سره آشنايي. د جومات درناوی د مسلمانانو دنده ده. ولې د جومات درناوی کوو؟

جومات د مسلمانانو د عبادت ځای دی. په جومات کې لمونځ اداء کېږي. قرآن کریم په کې تلاوت کیږي. د الله تعالي ذکر یادونه او د دیني علومو زده کړه په کې کیږي.

د جومات درناوی د هر مسلمان دیني اواسلامي دنده ده.

جومات ته د ورتلو په وخت کې د اوداسه لرل سنت کار دی او ثواب لري.

جومات ته نږدې د ناپاکو شیانو غورځول ناروا او له دیني ادب څخه لرې کار دی.

**هڅوني:**

۱. د جومات په باره کې په فردي او ډله ییزه توګه خبرې وکړئ.
۲. جومات د څرنګه کارونو ځای دی؟
۳. جومات باید له کومو شیانو څخه وساتو؟
۴. په جومات کې باید کوم کارونه ونه کړو؟

**ارزونې:**

**۱_** د درس متن د پوښتنې او ځواب په ډول تکرار کړئ
**۲_** د جومات د درناوي په هکله کورنۍ دنده ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږ دېرشم لوست

# د روغتيا ارزښت

**هدف:** روغتيا لرل د الله تعالی نعمت دی د روغتيا له ساتنې سره آشنايي
آيا پوهېږئ چې سليم عقل په سالم بدن کې دی؟
څوک کولای شي د روغتيا ارزښت بيان کړي؟

**د اسلام سپيڅلي دين پاکوالی چې د روغتيا بنسټ دی، د ايمان جـــزء ګڼلـــی دی. يعنې د ځان، جامو او استوګنځي پاک ساتل يې د ايمان نښه بللې ده.**

**زياتره ناروغتياوې د ناپاکۍ اوناولتيا څخه پيداکيږي، له دې کبله مسلمان دنده لري چې له ناپاکو اوځندهمنو خوړو څخه ځان وساتي، ترڅو يې بدن له ناروغتيا څخه خوندي پاتې شي.**

**هڅونې:**

١- زده کوونکي دې يوه يوه جمله د روغتيا په هکله ووايي؟
٢- هغه شيان چې روغتيا ته زيان رسوي نومونه يې واخلئ.

---

سپارښت: ښاغلی ښوونکی دې په لاندې موضوعاتوکې وخت په وخت زده کوونکو تـــه معلومـــات ورکړي، سوله صلح عدالت، شوری، د مور او پلار حقونه، د ښوونکي حقونه د مشرانو حقونـــه د روغتيا ارزښت،له بدو عادتونو څخه ځان ساتل، لکه چلم، نسوار، سګرټ، نيشه يي توکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووه دیرشم لوست

# اسلام د سولې دین دی

**هدف:** د سولې د مفهوم او ګټو پېژندنه.

آیا په سوله کې د ژوند له ارزښت سره آشنا یاست؟

**سوله او امنیت د الله تعالی ډېر لوی نعمتونه دي، باید د دې نعمتونو د ساتنې لپاره کوښښ وکړو. په سوله کې موږ کولای شو چې په ښه توګه خپل عبادت وکړو، تعلیم ته په ښه توګه ادامه ورکړو او خپل وطن ودان کړو.**

**الله تعالی فرمایلي دي: وَالْصُّلْحُ خَيْرٌ او سوله ډېره ښه ده.**

**ښه انسان هغه دی، چې د سولې د ټینګښت لپاره کوښښ کوي.**

**هڅونې:**

۱_ یوه یوه جمله د سولې په هکله ووایئ.

۲_ سوله انسان له کوم شي څخه ساتي. په دې هکله خبرې وکړئ.

**ارزونې:**

۱_ سوله یعني څه؟

۲_ د سولې ارزښت بیان کړئ. د لوست لنډیز ووایئ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**